مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۳/۱۲

# غزل

نه خلاصیږمه له غمه، څه کیسه ده
د تقدیر څه فیصله ده؟ عجیبه ده

د وحشت په لار درانه ګامونه اخلو
د اغیارو لومه سیخه ده سیده ده

چې رسا تر خپل منزله نه رسیږو
جوړه کړې مونږ ته لاره چا کږه ده؟

خیر که څوک مې لېونتوب پورې خندیږي
خو زما د لېونتوب نشه خوږه ده

زه د خپلې لمن اور یمه سېزلی
ما په خپل تبر وهلې خپله پښه ده

د لیندی غشی مې سور د وررور په وینو
نه پوهیږم چې دا څنګه دسیسه ده

پسرلیه! د ژوند ژرندې وینې غواړي
ژوندون دلته معما او سرچپه ده

مصطفی پسرلی
11/03/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ